

# له غلامۍ نه تر سلامۍ

وسعت الله خان

د بارك اوباما صدارت د امریکې تور پوستو د څلورو سوه کلنۍ مبارزې د تاریخ ورومبے باب دے چې د غم په ځائے د خوشحالۍ په اوښکو لیکل شوے دے. د بارك اوباما انتخابي مهم په اصل کښې په **1619** کښې پېل شوے ؤ چې کله د یوې شخړې پر مهال د وائیټ لوائین په نوم یوې ولندیزي بېړۍ د مېکسیکو په خوا د روان یو هسپانوي جهاز نه **20** افریقائي غلامان ونیول، بیا د یو سمندري طوفان له کبله د دې ولندیزي بېړۍ پُرزې مُرزې بې ځایه شوې او د ورجینیا په ساحل فورټ منرو ته بوتل شوه چې بیا هلته کبار شوه.

> "زما یو خوب دے چې یوه ورځ د جارجیا په سرو غرونو کښې د سپین پوستو بادارانو او تور پوستو غلامانو وارثان یو او بل ته ورغاړه وځي، زما یو خوب دے چې زما څلور ماشومان د خپل رنګ په ځائے په خپل کردار وپېژندل شي، زما یو خوب دے" لوتهر کنګ

د ولندیزي بېړۍ کپتان د جهاز د مرمت او د خوراکي موادو د زېرمې د بیعې په توګه دا شل افریقائي غلامان د فورټ منرو سپین پوستو تاجرانو ته وسپارل، له شپاړسمې پېړۍ نه د نولسمې پېړۍ تر نیمائي پورې یو کروړ شل لکه افریقایان ونیول شول او د شمالي او جنوبي امریکا براعظمونو ته یوړل شول. په دې کښې تر ټولو ډېر غلامان پرتګېزي نوآبادۍ برازیل ته یوړل شول خو د امریکې په متحده ایالاتو کښې د **1860** د مردم شمارۍ له مخې د امریکې چې غلامي ئې قانوناً جائز ګڼله، په پنځلسو سهیلي ایالتونو کښې د یو

کروړ شل لکه په آبادۍ کښې تر ځلوښتو لکو پورې تور پوستي غلامان هم شامل وو.

څنګه څنګه چې د ختيځ نه د لوېديځ په لور نوې نوې زمکې ودانې شوې، د غلامانو هم يو بل جبري هجرت پېل شو، د يوې اندازې له مخې د نوو سيمو د ودانۍ دپاره تر 1860 پورې د **90** کلونو په موده کښې لس لکه غلامان د جنوبي ايالتونو نه مغربي سيمو ته منتقل کړے شول. په دې غلامانو کښې ډېر کم داسې وو چې مغرب ته خپلې کورنۍ هم ورسره منتقل کړې شوې. د اکثرو په انفرادي توګه اخستل او خرڅېدل روان وو.

تر **1840** پورې د نيو آرلينز جنوبي بندرګاه په امريکه کښې د غلامانو د تجارت تر ټولو لوئے مرکز جوړ شوے ؤ. د دې تجارت د ګټې په سوب نيو آرلينز د امريکې درېم لوئے او امير ښار وګرځېدو. په هم دې نيوآرلينز کښې د تور پوستو غلامانو اسويلي له سُرونو سره ملګري شول او جاز موسيقي ترې راپېدا شوه.

کۀ څۀ هم په **1787** کښې د امريکې د نافذ شوي آئين له مخې ټول انسانان خپلواک او مساوي پېدا شوي وو خو د دې آئين د نفاذ نه شل کاله پس کانګرس له بهرنيو هېوادونو نه د غلامانو په راتګ بنديز ولګولو، البته په ملک کښې دننه د غلامانو په تجارت هيڅ بنديز ونۀ لګېدو خو بيا هم څو شمالي ايالتونو د غلامۍ د ختمولو دپاره ځان ته خپل خپل قوانين نافذ کړل. په دې لړ کښې وړومبے قانون د مېساچوستس ايالت منظور کړو خو په سهيلي ايالتونو کښې عدالتونو چې غلامي ئې جائزه ګڼله، د غلامانو دپاره د انسان په ځائے د "څيز" لفظ کارولو، کله چې به دې "څيز" کوم جرم کولو نو د انسان په ډول به سزا ورکول کېده.

دا مهال په شمالي ايالتونو کښې امريکن کولونائزيشن سوسائټي جوړه شوې وه. دې سوسائټۍ نۀ يواځې د هغو غلامانو مرسته او ډاډګېرنه کوله کوم چې به د سهيلي ايالتونو نه شمالي ايالتونو ته تښتېدل، بلکې کومو غلامانو چې به بېرته افريقې ته ستنېدل غوښتل نو د هغوي د سفر ترتيبات او انتظامات به ئې هم نيول. هم دې غلامانو په مغربي افريقه کښې د لائبېريا رياست جوړ کړو. د **1830** په لسيزه کښې د وليم لائډګريژن په مشرۍ کښې يو مذهبي تحريک سر اوچت کړو، د دې تحريک نعره دا وه چې څوک غلام جوړول تر ټولو





لویه او سنګینه ګناه ده او د دې ګناه مرتکب خلقو ته توبه ویستل پکار ده.

په 1852 کښې د هېریټ ستوو شهرۀ آفاق ناول "انکل ټامزکېبن" خور شو او کوم خلق چې د غلامۍ د روایت په حقله لږ هم خوشبینه وو، د دې ناول د لوستلو نه پس ئې دا خوشبیني هم وتښتېده.

په 1857 کښې یو تور پوستي غلام ډرېډ سکاټ د خپلې آزادۍ دپاره د سپریم کورټ دروازه وټکوله خو سپریم کورټ دا فېصله ورکړه چې کۀ چرته یو غلام په یو داسې ریاست کښې پناه واخلي چې پکښې غلامي ممنوع وي بیا هم دا یو آزاد کس نۀ شي ګڼل کېدے او کانګرس دا اختیار نۀ لري چې په کومه علاقه کښې غلامي کالعدم وګرځوي. چیف جسټس راجرټېني په فېصله کښې ولیکل چې غلامان او د هغوي وارثان د شهریت حاصلولو اهل نۀ دي. په دې فېصله صدر ابراهام لنکن او نورو ګڼ شمېر خلقو خفګان ونښودلو او دا تاثر پوخ شو چې اوس د غلامۍ حمایتیان په سپریم کورټ کښې هم په اکثریت کښې دي. د دې نتیجه اخر کار په 1861 کښې د پېل شوې خانه جنګۍ په شکل مخې ته راغله. په شمالي فوځونو کښې دوه لکه تور پوستي آزاد یا مفرور غلامان هم شامل شول. په څلور کاله خانه جنګۍ کښې د سهیلي ایالتونو اتحادیې ماتې وخوړه، له دې نه وروستو د امریکې په آئین کښې د 1865 تاریخي دیارلسم ترمیم وشو او غلامي غېر قانوني وګڼل شوه خو په هغو ریاستي اختیاراتو کښې بیا هم ګوتې ونۀ وهل شوې چې د نسلي تفریق ببلابېل شکلونه ئې برقرار ساتل. د دې نسلي تفریق د ختمولو دپاره تور پوستو ته نور د سلو کلونو سفر پروت ؤ.

د امریکې تور پوستو د څلور سوه کلنې مبارزې په تاریخ کښې کۀ چرته یوې ورځې ته تر ټولو مبارکه ورځ وئیل کېدے شي نو هغه د 15 جنورۍ 1929 ورځ ده. په دې ورځ د سهېلي ایالت جارجیا یو تورپوستي پادري په کور کښې مارټن لوتهر کنګ وزېږېدو، کنګ په خپل نهۀ دېرش کلن مختصر ژوند کښې د تور پوستو افریقایانو د پېړیو سفر کلونو ته رالنډ کړو. زلمي پادري مارټن لوتهرکنګ د ګاندي جي د عدم تشدد د فلسفې په زور د نسلي تفریق نظام دړې وړې کړو او په دې کښې ځینو پېښو د بنسټیزې تېږې حېثیت خپل کړو. د مثال په ډول په مارچ 1955 کښې یوې پنځلس کلنې تورپوستې زدکوونکې د جنوبي ښار برمنګهم په بس کښې د سپین پوستو دپاره د ځانګړې سیټ د پرېښودلو نه انکار وکړو، د هم دې کال په دسمبر کښې د منټګمري په ښار کښې یوې مېرمنې چې روزا پارک نومېده د سپین پوستو دپاره د بس د ځانګړې سیټ د پرېښودلو نه انکار وکړو او ونیول شوه. د دې دواړو واقعاتو د عکس العمل مشري مارټن لوتهرکنګ کوله او تور پوستو او د هغوي ملاتړ کوونکو سپین پوستو په خپلو خپلو علاقو کښې له بسونو نه بائیکاټ وکړو، څکه نو یو ډسټرکټ کورټ په بسونو کښې د نسلي تفریق نظام کالعدم وګڼلو.

په 1963 کښې د کنګ په مشرۍ کښې شپږ سوو تنظیمونو په واشنګټن کښې يوه جلسه وکړه چې دوه نيم لکه خلقو پکښې ګډون درلود، دا د واشنګټن په تاريخ کښې تر دې وخته پورې تر ټولو لويه غونډه وه. په دې جلسه کښې غوښتنه وشوه چې په سرکاري سکولونو او ملازمتونو کښې دې نسلي تفريق ختم کړل شي او کم نه کم اجرت دې دوه ډالره مقرر کړے شي. د واشنګټن دا جلسه د مارټن لوتهرکنګ د شهرهٔ آفاق تقرير "زما يو خوب دے" له کبله په تاريخ کښې د تل دپاره خوندي شوه.

"زما يو خوب دے چې يوه ورځ د جارجيا په سرو غرونو کښې د سپين پوستو بادارانو او تور پوستو غلامانو وارثان يو او بل ته ورغاړه وځي، زما يو خوب دے چې زما څلور ماشومان د خپل رنګ په ځائے په خپل کردار وپېژندل شي، زما يو خوب دے"

دې تقرير ته د ابراهام لنکن د ګيټس برګ د تقرير او د فرنکلن روز ويلټ د تاريخي تقرير نه پس د امريکې د تاريخ دريم عظيم ترين تقرير وئيل کېږي.

مارټن لوتهرکنګ غوښتنه وکړه چې غلامۍ د کومو طبقو نه پېړۍ وخوړې د هغوي د سماجي، تعليمي او مساوي بحالۍ دپاره دې د پنځوس اربه ډالره يو فنډ قائم کړے شي.

د دې مبارزې په نتيجه کښې په 1964 کښې د شهري حقونو وفاقي قانون او په 1965 کښې د ووټ مساوي قانون منظور شو. دا دواړه قوانين د 1865 د غلامۍ د تنسيخ د آئيني ترميم نه پس تر ټولو مهم قوانين ګڼل کېږي.

کنګ د ويتنام د جنګ سخت مخالفت وکړو او دې ته ئې يو نو آبادياتي جنګ ووئيلو. د کنګ کوششونو په جنوبي افريقه کښې د تور پوستو مبارزه هم زښته اغېزمنه کړه. په 1964 کښې پنځهٔ دېرش کلن کنګ ته د ښاري حقونو دپاره په تاريخي رول لوبولو د امن نوبل انعام ورکړل شو. تر پنځوسو زياتو پوهنتونونو هغهٔ ته اعزازي ډګرۍ ورکړې. د شلمې پېړۍ د مهمو شخصيتونو په ګيلپ فهرست کښې د کنګ نوم په دوم نمبر دے او د 2000 کال د ټائم مجلې د پېړۍ د با اثر ترينو خلقو په فهرست کښې د مارټن لوتهرکنګ نوم په شپږم نمبر دے. د امريکې په اووهٔ سوه دېرشو ښارونو کښې به د مارټن لوتهرکنګ په نوم کوم سړک يا کوڅه ضرور تر سترګو کېږي. په 4 اپرېل 1964 کښې مارټن لوتهرکنګ د جنوبي رياست ټينيسي په ښار ميمفس کښې ووژل شو. دا ورځ اوس د ملي رخصتۍ په توګه لمانځل کېږي.

دا وخت ماته د نولسمې پېړۍ د يو نسل پرست امريکي ليکوال جارج فټز هوګ دا خبره راياديږي چې "نېګرو په ذهني توګه نابالغ وي، ځکه نو له هغوي سره د ماشومانو غوندې سلوک کول پکار دي، غلامان د آزادۍ په فضاء کښې د ساه اخستلو وړ نهٔ وي، ځکه چې هغه او د هغهٔ ذهن سست وي، هغه د ذهين سپين پوستي نسل سيالي نهٔ شي کولے".

دا او دا رنګه نور نسل پرسته دلائل وخت د هم دغو دليل بازانو په خُلهٔ ور ووېشتل، تور پوستو د غلامۍ په دور او له دې وروستو د نسل پرستۍ په سختو اذيتونو کښې هم خپل صلاحيتونه په مېړانه ژوندي وساتل او کله ئې هم مرګ ته ورنهٔ کړل.

ایډورډ بوکې وړومبې تور پوستې امریکائي ؤ چې په **1876** کښې ئې د پي ایچ ډي ډګري واخسته او هغه هم د ییل پوهنتون نه په **1893** کښې ډینیل ولیمز د هارټ سرجرۍ وړومبې اپرېشن وکړو. په **1840** کښې د نړۍ وړومبې د وینو زېرمتون (بلډ بېنک) تورپوستي ډاکټر چارلس ډریو قائم کړو. په هم دې کال بنجمن ډیوس د امریکي فوځ وړومبې تور پوستې جرنېل جوړ شو، په هالي وډ کښې چې کومو تور پوستو اداکارانو د خپل هنر جادو وښودلو، د هغوي د فهرست دپاره د دې لیکنې لمن تنګه شوه. په موسیقۍ کښې د جاز، راک اینډرول او ریګې غوندې اصناف هم د دغو غلامانو پېرزوئنې دي. مارشل ټېلر وړومبې تور پوستې امریکائي ؤ چې په **1899** کښې د سائیکلنګ نړېوال چمپئین جوړ شو. په **1908** کښې جېک جانسن د هېوي وېټ باکسنګ وړومبې تور پوستې چمپئین او په هم دې کال جان بکسټر په اولمپکس کښې د ریلې رېس وړومبې تور پوستې ګولډ مېډلسټ وګرځېد. له دې نه وروستو چې ترننه پورې تور پوستو امریکایانو په لوبو کوم راج کړې دې، د هغې د ښودلو ضرورت نشته.

بېسي کولمېن وړومبې تور پوستې پائلټ ؤ چاته چې په **1921** کښې فلائنګ لائسنس ورکړې شو. په **1950** کښې سفارتکار الف پنجي ته د امن وړومبې نوبل جائزه او په **1964** کښې مارټن لوتهرکنګ ته د امن دوېمه نوبل جائزه ورکړې شوه. په **1993** کښې ټوني موریسن ته د ادب نوبل جائزه ورکړې شوه.

تور پوستو ته چې چرته هم چانس په لاس ورغلې دې، هغوي د نسلي برترۍ نظریه له خاورو سره خاورې کړې ده خو په انتظامي او سیاسي ډګرونو کښې اوس هم د هغوي په مخ کښې بې شمېره خنډونه پراته دي. د هغوي ثبوت دا دې چې په وړومبي ځل د کوم امریکي ښار تور پوستې ښارنوال (کارل ستوکس- کلیولېنډ) په **1967** کښې جوړ شو. وړومبې ریاستي ګورنر (ډګلس ولډر، ورجېنیا) په **1990** کښې جوړ شو، کۀ ځۀ هم د کانګرس وړومبې تور پوستې غړې (جوزف رېني) په **1870** کښې جوړ شوې ؤ خو وړومبې تور پوستې مېرمن (شرلي چشلم- نیویارک) په **1969** کښې د کانګرس غړې شوه. وړومبې تور پوستې سېنېټر ایډورډ بروک په **1964** کښې جوړ شو. تر اوسه پورې د بارک اوباما په شمول ایله پنځۀ تور پوستې تر امریکي سېنټ پورې په رسېدلو کښې بریالي شوي دي خو یوائې دوه تور پوستي ججان تر سپریم کورټ پورې د رسېدلو ویاړ لري.

وړومبې تور پوستې وزیر (رابرټ ویور- وزیر هاؤسنګ) د **1964** د جانسن په انتظامیه کښې تر وفاقي کابینې پورې ورسېدو او وړومبې د بهرنیو چارو وزیر د کولن پاؤل په شکل کښې په **2001** کښې مخې ته راغلو.

ریورن جېسي جېکسن چا چې د **1984** او **1988** د صدارتي امېدوارۍ په منډه کښې برخه اخستې ده، تقریباً درې کاله وړاندې په یوه مرکه کښې وئیلې وو چې نن هم د لاشعوري تعصباتو جرړې مضبوطې دي. امریکي تورپوستو ته اوس هم یو لوئې سفر په مخ کښې پروت دې.

د جېسي جېکسن په قول "کله چې هم د یو عمارت په لېفټ کښې کښېنم نو په لېفټ کښې

ناسته کومه مېرمن زما د رنګ په ليدلو خپل پرس ارخ ته کوي".

دا وخت په امريکي آبادۍ کښې د تورپوستو برخه ديارلس فيصده ده خو په امريکي جېلونو کښې د تور پوستو قېديانو شمېره تر دېرش فيصده زياته ده.

په دې حالاتو کښې به څو مياشتې وروستو دا سوال بنيادي اهميت خپل کړي چې بارک اوباما سپينه مانۍ تر خپلې قبضې لاندې راوستې ده او کۀ هغه هم د دې قېدي جوړ شوے دے؟

**ژباړه: خان زمان کاکړ**